ورځپاڼه
# مسیر
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
سه شنبه د ۱۴۰۰ د غويي ۱۴مه | د ۲۰۲۱ د مې خلورمه |۷۱۷مه گڼه


# له خطرونو او ننگونو سره مخ دنده؛

## نړيوالې ادارې: ټول اړخونه دې د افغان خبريالانو حقونو ته درناوی وکړي



۳

### د رسنيو ازادي؛ شعارونه او واقعيت

۲ مخ

### غرب چطور می‌تواند بعد از ترک افغانستان با تروريزم مقابله کند؟

۲ مخ

### افکار عمومی در افغانستان به شکنجه متهمان چگونه واکنش نشان می‌دهد؟

۳ مخ

## مارک میلي: افغانان په خپلمنځي خبرو افغانستان له کورنۍ جگړې ژغورلی شي

د امریکا لوی درستیز جنرال مارک میلي له اسوشیټېډ پرېس خبري اژانس سره په تازه مرکه کې یوځل بیا له افغانستان څخه د امریکایي ځواکونو تر وتلو وروسته پر دوو احتمالي پایلو خبرې کړې دي.

نوموړي په خپلو خبرو کې ویلي چې افغان ځواکونه پیاوړي، روزل شوي، مجهز او په ښه روحیه سمبال دي، خو په خبره يې، کېدای شي د طالبانو پر وړاندې له بدو پایلو سره مخ شي. نوموړي زیاته کړې چې دا یو احتمال دی چې ښايي افغانستان له ډېرو بدو پایلو سره مخ شي، خو دا احتمال هم لرې نه دی چې افغان پوځ به له خپل حکومت سره یو ځای پر ټولو ستونزو برلاسی شي.

میلي د افغان دولت او طالبانو ترمنځ مذاکرات مهم بللي او ټینگار يې کړی چې افغانان په خپلمنځي خبرو خپل هېواد له کورنۍ جگړې ژغورلی شي. دا په داسې حال کې ده چې تر دې وړاندې نوموړي ویلي وو چې له افغانستانه د امریکایي ځواکونو په وتلو سره به ښايي طالبان اوسنی افغان حکومت نسکور کړي او په دې سره به دغه ډله یوځل بیا پر افغانستان خپله ولکه ټینگه کړي. د نوموړي دا خبرداری داسې مهال دی، چې د امریکا د تازه پرېکړې له مخې به ټول امریکا او نړیوال ځواکونه د روان کال تر سپټمبر میاشتې پورې له افغانستان څخه ووځي، خو له دغه هېواد سره به خپلو مالي مرستو ته دوام ورکوي.


## تر جولای میاشتې د امریکایي ځواکونو د وتلو په صورت کې طالبان د سولې خبرو ته راستنېږي



۵ مخ

## خپره


۴ مخ



### لري کينگ

لري کينگ د ټلوېزيون په تاريخ کې لومړنی کس دی چې يوه خپرونه پوره پنځه ويشت کاله چلوي او په يو وخت يې يو ميليون کسان گوري. هغه په دې کار سره په نړۍ کې ريکارډ جوړ کړی دی.

## کرنې وزارت: په هېواد کې د کچالو د تولید کچه نږدې ۹۰۰ مترېک ټنو ته رسېدلې



کرنې وزارت وايي، چې د افغانستان د کچالو له کروندو څخه تېرکال نږدې ۸۵۵ زره او ۳۹۵ مترېک ټنه کچالو راټول شوي دي. د ياد وزارت په وينا، د کچالو ډېری کروندې د باميان، وردگ، لوگر، غور، هرات، فراه، بغلان، بلخ، فارياب، جوزجان، ننگرهار او کندز په ولايتونو کې دي چې تېر کال په ۵۳ زره او ٦٧۴ هکتاره ځمکه کرل شوې وې.

کرنې وزارت زياتوي چې د کرنې د برخې متخصصينو د هلوځلو په پايله کې د کچالو په کميت، کيفيت او بيې کې د تېر په پرتله خورا بدلونونه رامنځته شوي دي. د ياد وزارت چارواکي وايي، چې په ټول هېواد کې يې د کچالو ساتنې لپاره زرگونه صفر انرژۍ سړې خونې جوړ کړي دي، ترڅو بزگران ورڅخه گټه پورته کړي، چې ورسره د کچالو په بيه کې بدلون او د بازرا بيه هم کنټرول شي.د دوی په خبره، روان کال به په هېواد کې دغه اندازه نوره هم لوړه شي.

## سعادتی: در صورتی که گفت‌وگوهای صلح نتیجه ندهد، آیندۀ تاریک و نامعلومی در انتظار افغانستان خواهد بود



اسدالله سعادتی، معاون سیاسی شورای عالی مصالحۀ ملی هشدار می‌دهد، در صورتی که گفت‌وگوهای صلح نتیجه ندهد، آیندۀ تاریک و نامعلومی در انتظار افغانستان خواهد بود. او نسبت به برگزاری نشست استانبول پس از عید سعید فطر مشکوک است و می گوید، هنوز روشن نیست که طالبان در این نشست شرکت می کنند یا خیر.

به گفتۀ آقای سعادتی، برای رسیدن به صلح و ثبات، انتخابات و اعمال قدرت مهم است و بدون این موارد، صلح نیز معنا ندارد. او می گوید: «فعلاً یک چشم‌انداز روشنی برای برگزاری یک نشست فیصله‌بخش، جدی و اساسی پیش‌روی ما نیست، اما مایوس هم نیستیم. تلاش ما این است که در ختم رمضان با یاری خداوند یک جلسۀ اساسی برگزار شود تا آن‌جا گام‌ها برداشته شود.»

از سوی دیگر، فروزان رسولی، معاون نهاد برابری برای صلح و مردم‌سالای با انتقاد از همه‌شمول‌نبودن هیأت گفت‌وگوکنندۀ صلح دولت می گوید که رهبران برخلاف صلح‌خواهی مردم، بر حفظ قدرت تمرکز دارند. به گفتۀ بانو رسولی، در گفتمان‌هایی که با بیش از هزار زن، متنفذان محلی، رهبران مذهبی و جوانان ۱۰ ولایت داشتند، همه خواستار اعمال فشار جامعۀ جهانی بر طالبان به هدف رسیدن به صلح شدند.

فروزان رسولی می‌افزاید: «همه طرف‌های درگیر و مخالف را تشویق به صلح بکنند، باید مکانیزم/سازوکار جهانی وجود داشته باشد که ضمانت و نظارت بر توافق‌نامۀ صلح را به عهده داشته باشند و متخلف‌ها را مسئول قرار بدهند.»




Aksos
اکسوس کتابپلورنځی

کتاب مو
د ژوند ملگری کړئ

کابل دریيمه ناحیه، د دهبوري پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
aksosbookstore@gmail.com
Aksos Book Store
www.aksosbookstore.af

سرلیکنه

## د رسنيو ازادي؛ شعارونه او واقعيت

پرون د مې دريېمه د رسنيو د ازادۍ نړيواله ورځ وه. لـه دې امله د امريکا پـه گډون ځينو بهرنيو هېوادونو او ملگرو ملتونو د رسنيو پر ازادۍ ټينگار کړی او ويلي يې دي چې رسنيو او ژورنالېستانو تـه د ور پېښو گواښونو مخه بايد ونيول شي. حکومتي چارواکي هم وايي چې دوی د بيان ازادۍ تـه ژمن دي او د رسنيو او ژورنالېستانو پر وړاندې د گواښونو د مخنيوي لپاره يې هڅې کړې او لا يې هم کوي.

پـه تېرو شلو کلونو کې تر بل هر وخت تېر او سږ کال رسنۍ او ژورنالېستان لـه سختو گواښونو سره مخ دي. پـه ۲۰۲۰ کال کې پـه افغانستان کې ۱۱ خبريالان وژل شوي او پـه ۲۰۲۱ کال کې تر دې دمه څلور خبريالان وژل شوي دي. پـه همدې وخت کې ډېر ژورنالېستان وهل شوي او ځورول شوي او ورسره ډېرو رسنيو او خبريالانو تـه گواښونه هم شوي دي. ډېرو ژورنالېستانو د همدغو گواښونو لـه امله خپل هېواد پرې اېښی، ځينو يې بيا پـه رسنيو کې کار او ژورنالېستيک فعاليتونه پرې اېښي دي او ځينو بيا خپل ځانونه سانسور کړي او خپلې هڅې او کارونه يې محدود کړي دي. د دې تر څنگ ډېرې هغه کسان هم پـه نښه شوي، وژل شوي او گواښل شوي چې پـه رسنيو کې بـه يې د سياسي شنونکو پـه توگه خبرې کولې او ډېرې دا کسان اوس رسنيو تـه نـه ځي.

هېڅ لوری رسنيو او ژورنالېستانو ته د اوښتي مرگ ژوبلې او گواښونو مسووليت نـه اخلي. حکومت وايي، دا کار طالبان کوي، خو طالبان بيا دا خبره ردوي او وايي چې حکومت د دغو کړنو تر شا دی. لـه بده مرغه دغه وژنې او گواښونه لا هم روان دي چې د ژورنالېستانو او رسنيو پر فعاليت يې منفي اغېز کړی دی. اوس ورځ تر بلې رسنۍ محدودېږي، هغه مسايل چې لانجمن دي او رسنيو تـه ستونزې ترې پيدا کېدلی شي، همداسې پټ پاتې کېږي. ژورنالېستان او رسنۍ نـه شي کولی چې پر ځينو مسايلو خبرونه، رپوټونه او نور پروگرامونـه جوړ کړي، دوی خپل ځان سانسوروي، ځکه چې کـه دا کار ونـه کړي، نو لـه مرگ سره مخ کېږي. لـه همدې امله د افغانستان رسنۍ او ژورنالېستان لـه بې ساري گواښ سره مخ دي او د بيان ازادي تـر بـل هر وخت لـه ستونزو سره مخ شوې ده.

ټـول اړخونـه يـوازې د شعار تـر حـده د رسنيو او د بيـان د ازادۍ ملاتړ کـوي، خـو پـه عملي ډول ستونزې جـوړوي. کـه خبره رښتيا شعاري نـه وي او عمـلي وي، نـو د رسنيو او ژورنالېستانو ستونزې بايـد کمې شي، د بيا ازادي بايـد پياوړې شي، رسنۍ بايد وغوړېږي، ژورنالېستان بايـد ځـان سانسـور نـه کړي، خو خـبره برعکس ده، نو ځکه تر اوسه پورې چې چارواکـي څـه وايـي، يوازې د شعار پـه حد کې دي او لـه دې پرتـه پـه عملي برخـه کې هېڅ هم نشتـه.

کـه د رسنيو او ژورنالېستانو اوسنيو ستونزو، هغـوی تـه ورپېښـو گواښـونو او د بيـان د ازادۍ پـه برخـه کـې خنډونـو تـه جدي پـام ونـه شي او پـه عملـي ډول دا ستونزې حـل نـه شي، نـو د بيـان ازادي پـه واقعـي مانـا لـه منځـه ځي. د ژورنالېستانو، رسنيو او پـه ټولـه کـې د بيان لـه ازادۍ پرتـه جمهوريت مانـا نـه لـري.

# غرب چطور می‌تواند بعد از ترک افغانستان با تروریزم مقابله کند؟

فرانک گاردنر
خبرنگار امور امنیتی بی‌بی‌سی

نیروهـای ایـالات متحـده، بریتانیـا و ناتـو، خـاک افغانسـتان را تابسـتان پیـش رو، تـرک می‌کننـد. ایـن در حالـی اسـت کـه نیروهـای طالبـان هـر روز قوی‌تـر شـده و القاعـده و گـروه موسـوم بـه دولـت اسـلامی (داعـش) نیـز بـه حمله‌هـای خـود شـدت بخشـیده‌اند. حـالا بـا ایـن شرایط، و بـا خـروج نیروهـای غربـی از کشـور، چطـور می‌تـوان ایـن گروه‌هـا را مهـار کـرد؟

نیروهـای اطلاعاتـی غـرب معتقدنـد ایـن گروه‌هـا در مخفی‌گاه‌هـای خـود در افغانسـتان، همچنـان بـرای حمله‌هـای تروریسـتی بین‌المللـی برنامه‌ریـزی می‌کننـد؛ کاری کـه اسـامه بـن لادن در ۱۱ سـپتامبر سـال ۲۰۰۱ میـلادی انجـام داد.

ایـن مسـئله حـالا، بـا نزدیـک شـدن زمـان خـروج نیروهـای آمریکایـی در ۱۱ سـپتامبر سـال ۲۰۲۱، سیاست‌مداران را در بریتانیـا بـه فکر واداشـته اسـت. بـه تازگـی، رئیـس سـتاد نیروهـای مسـلح بریتانیـا، جنـرال سر نیـک کارتـر گفتـه اسـت: «ایـن نتیجـه‌ای نیسـت کـه انتظـارش را داشـتیم.» بـا تغییراتـی کـه در افغانسـتان اتفـاق می‌افتـد حـالا ممکـن اسـت حاصـل تلاش‌هـای ضـد تروریـزم در بیسـت سـال گذشـته کـه بـا هزینـه‌ای سـنگین بـه دسـت آمـده بـود از بیـن بـرود.

جـان ریـن، متخصـص امنیـت منطقـه‌ای در انسـتیتوت بین‌المللـی مطالعـات اسـتراتژیک IISS می‌گویـد: «مشـکل، قابلیـت تغییـر شرایـط بـه سرعـت و بـه وضعیتـی اسـت کـه دولـت افغانسـتان حتـی بـا کمـک ایـالات متحـده از راه دور، نتوانـد آن را مهـار کنـد.»

بـا ایـن حـال، برنامـه جـو بایـدن همـواره همیـن بـوده اسـت. بایـدن زمانـی کـه در سـال ۲۰۰۸ و ۲۰۱۱ میـلادی بـه عنـوان معـاون ریاسـت‌جمهور در دولـت اوبامـا بـه ایـن کشـور سـفر کـرد، بـه ایـن نتیجـه رسـید کـه ملت‌سـازی در آن منطقـه اقدامـی بی‌فایـده اسـت و بـه جـای آن، ایـالات متحـده بایـد بـر رویکـرد تدافعـی ضـد تروریـزم بـه کمـک حمله‌هـای هوایـی و یـورش نیروهـای ویـژه تمرکـز کنـد. پنتاگـون مخالـف ایـن نظـر بـود. وزیـر دفـاع سـابق ایـالات متحـده، رابـرت گیتـس در خاطـرات خـود در ایـن بـاره می‌گویـد: «بایـدن در چهـار دهـه گذشـته، تقریبـاً در مـورد همـه مسـائل بـزرگ سیاسـت خارجـی و امنیـت ملـی اشـتباه می‌کـرده اسـت.»

حـالا بعـد از مـاه سـپتامبر آینـده، فعالیت‌هـای ضدتروریـزم غـرب در افغانسـتان چگونـه خواهـد بـود؟

**حمله پهپاد**

ایـن گونـه حمله‌هـا ممکـن اسـت افزایـش پیـدا کنـد. اسـتفاده از پهپادهـا یـا هواپیماهـای بـدون سرنشـین و یـا کنـترل از راه دور، در دوران اوباما و معاونت بایـدن بسیار مـورد قبـول واقـع شـد.

بـه گفتـه مامـوران اطلاعاتـی، در مناطـق دور افتـاده مـرزی پاکسـتان و افغانسـتان و در مناطقـی از یمـن کـه سران ارشـد القاعـده مخفـی بودنـد، حمله‌هـای موفـق پهپادهـا بـر عملیـات ایـن گـروه تروریسـتی تاثیرگـذار بـود. ایـن حمله‌هـا موجب شده بـود کـه سران القاعـده همـواره در حرکـت باشـند و نتواننـد بیـش از یـک یـا دو شـب را در هـر منطقـه سپری کننـد. ایـن حمله‌هـا همچنیـن توانایـی آنهـا را در برقـراری ارتبـاط، محـدود کـرده بودنـد. هـر رفـت و آمـد ایـن گـروه ممکـن بـود بـه شـلیک یـک موشـک از سـوی دشـمن ختـم شـود.

امـا حملـه بـا پهپادهـا موضوعـی بحـث برانگیـز اسـت. آنهـا می‌تواننـد خطرنـاک هـم باشـند. البتـه نـه بـرای اپراتـور ایـن پهپادهـا کـه هـزاران کیلومـتر دورتـر در پایگاهـی هوایـی در نـوادا یـا لینکلن‌شـایر نشسـته اسـت؛ بلکـه بـرای غیرنظامیـان منطقـه.

بـا وجـود اینکـه نمایشـگر اپراتـور، جزئیـات زیـادی را نشـان می‌دهـد، همـواره خطـر خسـارات جانـی وجـود دارد. ممکـن اسـت در لحظـه آخـر، غیرنظامیـان در صحنـه حـاضر شـوند؛ اتفاقـی کـه در عـراق و سـوریه افتـاده اسـت. آمریکایی‌هـا چندیـن بـار محمـد اموازی، معـروف بـه جـان جهـادی، یکـی از اعضـای گـروه دولـت اسـلامی را در هـدف خـود داشـتند، امـا بـه دلیـل حضـور غیرنظامیـان در منطقـه، مجبـور بـه لغـو عملیـات شـدند. حضـور پهپادهـا در یمـن بـا مخالفـت شـدید فعـالان حقـوق بـشر روبـرو شـده اسـت. آنهـا می‌گوینـد، در ایـن منطقـه، اجتمـاع غیرنظامیـان بارهـا بـا شورشـیان مسـلح اشـتباه گرفتـه شـده اسـت. بـا ایـن وجـود در آن سـوی دریـای سرخ، وزیـر امـور خارجـه جیبوتـی از اسـتفاده از ایـن پهپادهـا علیـه نیروهـای شـبه نظامـی الشـهاب سـومالی اسـتقبال می‌کنـد و گفتـه حـاضر اسـت مقابـل دوربیـن نیـز از آن دفـاع کنـد.

در ۲۰ سـال گذشـته، سی‌ای‌آی(سیا) و سـازمان اطلاعـات خارجـی بریتانیـا (ام‌آی‌سـیکس) و دیگـر سـازمان‌های اطلاعاتـی بـا ریاسـت عمومـی امنیـت ملـی افغانسـتان همـکاری نزدیکـی داشـته‌اند. آنهـا بـه ایـن سـازمان در شناسـایی و جلوگیـری از تهدیـدات، کمـک کرده‌انـد و همچنیـن در تـلاش بوده‌انـد مانـع روش‌هـای خشـونت‌آمیز بعضـی از افـراد شـوند. ایـن هفتـه، یکـی از مامـوران امنیتـی غـرب اعـلام کـرد: «مـا همچنـان خواهیـم توانسـت بـه سـازمان عمومـی امنیـت ملـی افغانسـتان کمـک کنیـم. تنهـا، روش کار مـا بایـد تغییـر کنـد.»

ایـن احتـمال وجـود دارد کـه سرانجـام طالبـان، بخشـی از دولـت آینـده افغانسـتان را تشـکیل دهنـد. در ایـن صـورت، آیـا پـس از سـال‌ها مبـارزه، غـرب آمادگـی بـه اشـتراک‌گذاری اطلاعـات را بـا ایـن گـروه خواهـد داشـت؟ بـه گفتـه ایـن مامـور امنیتـی «تصـور آن، دشـوار خواهـد بـود».

سـوال اصلـی ایـن اسـت کـه آیـا ادعـای طالبـان در مذاکـرات صلـح دوحـه، در مـورد قطـع رابطـه بـا القاعـده حقیقـت دارد. ایـن روابـط در بعضـی مـوارد، تاریخـی، قومیتـی و خانوادگـی اسـت کـه بـه سـال‌ها پیـش از حمله‌هـا ۱۱ سـپتامبر برمی‌گـردد. طالبـان می‌داننـد بـرای اینکـه بخشـی از دولـت آینـده افغانسـتان باشـند و جوامـع بین‌المللـی آنهـا را بـه رسـمیت بشناسـند، نمی‌تواننـد جـزء گروه‌هـای تروریسـتی منطقـه باشـند. بـا ایـن وجـود، گویـن مک‌نیـکل، مدیـر اندیشـکده اطلاعاتـی ایـدن در بریتانیـا می‌گویـد اعتـماد کـردن بـه آنهـا سـاده لوحانـه اسـت.

او می‌گویـد: «دولـت ایـالات متحـده بـه نظـر در دنیایـی غیرممکـن و رویایـی بـه سر می‌بـرد کـه بـاور دارد طالبـان روابـط خـود را بـا القاعـده و داعـش قطـع کـرده و بـه آنهـا اجـازه بازگشـت نخواهنـد داد. حـرف آنهـا هرگـز قابـل اعتـماد نخواهـد بـود.»

**یورش نیروهای ویژه**

حمله‌هـای شـبانه گروه‌هـای کوچـک اس‌بـی‌اس یـا نیروهـای ویـژه ایـالات متحـده کـه بـر اسـاس اطلاعـات بـه دسـت آمـده میدانـی انجـام می‌شـود، فشـار زیـادی بـر ایـن گروه‌هـا وارد کـرده اسـت. ایـن نیروهـا اغلـب در نیمه‌هـای شـب، بـا هلیکوپـتر وارد محـل شـده و پیـاده افـراد مـورد هـدف را دسـتگیر کـرده یـا می‌کشـند. آنهـا در همـکاری نزدیـک بـا نیروهـای ویـژه افغانسـتان از حمله‌هـای بی‌شـماری جلوگیـری کرده‌انـد.

امـا اگـر ایـن یورش‌هـا بعـد از سـپتامبر ادامـه داشـته باشـد، احتـمالاً بایـد از خـارج از کشـور برنامـه ریـزی یـا اجـرا شـوند. در ایـن صـورت، تاخیـر در زمـان و احتـمال افشـای عملیـات افزایـش می‌یابـد. همچنیـن کشـف محـل مناسـب بعـدی بـرای شروع حملـه، یـک شـبه قابـل برنامـه ریـزی نیسـت.

**یافتن پایگاه‌های جدید**

قـرار اسـت پایـگاه محرمانـه‌ای کـه نیروهـای ویـژه ایـالات متحـده در شرق افغانسـتان بـرای عملیـات علیـه اهـداف بـزرگ اسـتفاده می‌کردنـد، بسـته شـود. ایـن خـبر خوبـی بـرای القاعـده و گـروه دولـت اسـلامی خواهـد بـود. آنهـا حـالا کمـتر نگـران یـورش سرزده آمریکایی‌هـا در نیمه‌هـای شـب خواهنـد بـود. امـا جایگزیـن مناسـب در منطقـه کجـا می‌توانـد باشـد؟

پاکسـتان از لحـاظ جغرافیایـی گزینـه مناسـبی اسـت، امـا غـرب بـه روابـط سـازمان اطلاعـات نظامـی پاکسـتان، آی‌اس‌آی، بـا گروه‌هـای تروریسـتی مشـکوک اسـت. زمانـی کـه سـی‌آی‌ای عملیـات دسـتگیری یـا قتـل اسـامه بـن لادن را در مـاه مـه ۲۰۱۱ اجـرا کـرد، ایـالات متحـده موضـوع را بـا پاکسـتان در میـان نگذاشـت. هلیکوپـتر گروهـای یـگان ویـژه نیـروی دریایـی ایـالات متحـده، بـدون اطـلاع پاکسـتان، مخفیانـه وارد آسـمان ایـن کشـور شـدند، زیـرا آمریکایی‌هـا نگـران افشـا شـدن عملیـات و فـرار بـن لادن بودنـد.

عـمان می‌توانـد جایگزیـن احتمالـی باشـد. دولـت آن پایـدار و موافـق غرب اسـت. در حـال حـاضر پایگاه‌هـای مهـم شـهر ثمریـت و بـه تازگـی شـهر الدقـم در سـاحل دریـای هنـد، میزبـان نیروهـای بریتانیـا اسـت. امـا الدقـم نزدیـک بـه دو هـزار کیلومـتر بـا مـرز افغانسـتان فاصلـه دارد و تمام هواپیماهـای ارتـش بایـد از آسـمان پاکسـتان گـذر کننـد. بحریـن گزینـه مناسـب دیگـری اسـت. در حـال حـاضر بریتانیـا، یـک پایـگاه دریایـی کوچـک بـه نـام اچ‌ام‌اس الجفیـر در بحریـن دارد و پایـگاه بـزرگ نـاوگان پنجـم نیـروی دریایـی ایـالات متحـده هـم در آنجـا مسـتقر اسـت.

آسـیای مرکـزی نیـز کـه از شـمال بـا افغانسـتان هـم مـرز اسـت گزینـه بعـدی اسـت. در سـال‌های اخیـر بعـد از حمله‌هـای ۱۱ سـپتامبر، ارتـش ایـالات متحـده از یـک پایـگاه قدیمـی شـوروی بـه نـام کارشـی خان‌آبـاد یـا K۲ در جنـوب شرقـی ازبکسـتان اسـتفاده می‌کـرد. امـا پـس از سرد شـدن روابـط دو کشـور، آمریـکا از ایـن پایـگاه عقب‌نشـینی کـرد. بازگشـت نیروهـای آمریکایـی بـه ایـن منطقـه، حتـی بـا دعوتنامـه هـم بحث‌برانگیـر خواهـد بـود، زیـرا بـر اسـاس گزارش‌هـا ایـن پایـگاه بـه تشعشـعات رادیواکتیـو و شـیمیایی آلـوده اسـت.

واقعیـت ایـن اسـت کـه در آینـده مهـار القاعـده و دولـت اسـلامی در نقـاط دور افتـاده افغانسـتان دشـوارتر خواهـد شـد. جایگزیـن مناسـبی بـرای نیروهـای زمینـی و کمـک سریـع آنهـا وجـود نـدارد. حـالا همـه چیـز بـه کارآیـی و تـلاش دولـت فعلـی افغانسـتان در مقابلـه بـا ایـن گروه‌هـای فراملیتـی وابسـته اسـت.

جـان ریـن، مقـام ارشـد سـابق در دولـت بریتانیـا، نگاهـی بدبینانـه نسـبت بـه ایـن شرایـط دارد: «بـا توجـه بـه میـزان عقایـد افراطـی در افغانسـتان و همچنیـن مزیـت اسـتراتیژیکی ایـن کشـور کـه بـه بازیگـران خارجـی قابلیـت انجـام فعالیت‌هـای تروریسـتی را در منطقـه می‌دهـد، ممکـن اسـت نسـل بعـدی تهدیـدات ضـد تروریـزم بـه شرایـط شـبهه گلخانـه‌ای قبـل برگـردد.»

# افکار عمومی در افغانستان به شکنجه متهمان چگونه واکنش نشان می‌دهد؟

نویسنده: رامین مظهر

چند روز پیش نشر تصاویری از ‹بدرفتاری› سیدوحید قتالی، والی هرات با چند متهم در شبکه‌های اجتماعی افغانستان واکنش‌برانگیز شد.
اختلاف نظر در مورد چگونگی رفتار مسئولان نهادهای دولتی با متهمان همواره از موضوعات مورد منازعه میان کاربران شبکه‌های اجتماعی در افغانستان بوده است.
در ماه سرطان سال ۱۳۹۹ یک نوار صوتی منسوب به امرالله صالح، معاون اول رئیس جمهوری افغانستان از زمانی که وزیر داخله افغانستان بود، خبرساز شد. صدایی که به امرالله صالح نسبت داده شده به یک فرمانده پلیس دستور می‌داد افرادی را که به ایست پلیس توجه نمی‌کنند، هدف قرار دهد و یا هم سرشان را بزند: «از والی نترس از وکیل نترس، کسی که در شاهراه ایستاد نکرد برایت، بزن کله‌اش را بریده بیار به دفتر من. من مسئولیت می‌گیرم.»
هرچند دفتر معاون اول ریاست جمهوری صحت این نوار صوتی را رد کرد، اما نشر آن بحث‌های گسترده‌ای را در رسانه‌های افغانستان در مورد چگونگی رفتار با متهمان جرایم به راه انداخت. در تمام این رویدادها، موج گسترده‌ای از حمایت‌های شهروندان افغانستان از آنچه که آنان ‹برخورد جدی و قاطع در برابر مجرمان› می‌گویند، را برانگیخت.
باری، در رسانه‌های اجتماعی افغانستان کارزاری شکل گرفته بود که در آن اعضای کمپاین، از نیروهای امنیتی می‌خواستند جنگجویان طالبان را دستگیر نکنند و به آنها شلیک کنند.
اما چرا برخی از بدرفتاری و تعذیب متهمان در شبکه‌های اجتماعی افغانستان استقبال می‌کنند؟

**بی‌اعتمادی به دولت**

عکس آقای قتالی، والی هرات با دو متهم به گروگان‌گیری را به یک راننده تاکسی در کابل نشان می‌دهم. در عکس، آقای قتالی از موی دو جوان متهم به گروگان‌گیری گرفته و کشیده است. او کار والی هرات را ستایش می‌کند و می‌گوید: «امروز جنایت‌کاران دستگیر می‌شوند و فردا دوباره آزاد می‌شوند. عدالت تأمین نمی‌شود. پس بهتر است به محض دستگیری جزای‌شان را ببینند.»
نجیب مصاب، استاد دانشگاه می‌گوید، استقبال مردم از برخورد خشونت‌آمیز در برابر طالبان و متهمان به جنایت دلایلی دارد، موج خشونت طالبان و مجرمان باعث تلنبار شدن نفرت، کینه، حس انتقام‌جویی و برانگیختن خشم اجتماعی در برابر آنان شده است. به گفته او، در روان اجتماعی خشونت رفع عطش جامعه برای انتقام‌گیری است.
رامین کمانگر، پژوهشگر می‌گوید، بی‌اعتمادی مردم به نهادهای عدلی و قضایی و نهادهای حکومت به همدیگر گاهی باعث بروز خشونت علیه متهمان می‌شود. برخی مقام‌های حکومتی یا حتی پلیس فکر می‌کنند اگر متهم را به دست نهادهای عدلی و قضایی بسپارند، روندی زمان‌گیر است، موثر نیست، ترجیح می‌دهند به دست خود عدالت را اجرا کنند.
نعمت ابراهیمی استاد دانشگاه لاتورب ملبورن استرالیا با اشاره به رهایی ۵۵۰۰ زندانی طالب از زندان‌های افغانستان می‌گوید، دولت افغانستان تحت فشار آمریکا مجبور شد زندانیان طالبان را رها کند. حالا بخش مهم داستان این پرسش است که قضاوت عمومی در مورد رهایی این زندانیان چگونه است. در میان مردم عادی افغانستان پرسش‌های زیادی در مورد رهایی این زندانیان و تأمین عدالت وجود دارد، آزادی این زندانیان فضای بی‌اعتمادی به نظام سیاسی را تشدید کرده است.

**شکنجه؛ ابزار فشار و حذف مخالف**

منتقدان بدرفتاری و شکنجه می‌گویند شکنجه در نقطه مقابل حاکمیت قانون و برگزاری دادگاه شفاف و عادلانه قرار دارد و ممکن است از شکنجه، به عنوان ابزار فشار و حذف مخالفان سیاسی استفاده شود.
جواد سلطانی، استاد دانشگاه می‌گوید از نظر تاریخی حکومت‌های افغانستان با مردم عادی مناسباتی توام با خشونت داشته اند. «از این نظر ما تاریخ بدنام و خونینی داریم. از رفتارهای غیرقانونی تا شکنجه، خشونت، مثله‌کردن، قطعه‌قطعه کردن، زنده‌به‌گورکردن، زندانی‌ساختن در زندان پل چرخی، سر به نیست کردن سازمان‌یافته، گورهای دسته‌جمعی، برخورد توأم با خشونت و تحقیر با مخالفان سیاسی و ایدیولوژیک حکومت واقعیتی است که در افغانستان بیش از هر جای دیگر جهان وجود داشته است.»

**چهره‌هایی که قربانی شکنجه شدند**

در تاریخ افغانستان کم نیستند چهره‌های سیاسی و فرهنگی که به دلایل مختلف، در زندان‌ها شکنجه و قلع و قمع شده‌اند.
برخی معتقد اند که فیض محمد کاتب هزاره، تاریخ‌نگار بر اثر شکنجه‌ای که از مأموران حکومتی در آن زمان دیده بود، جانش را از دست داد. محمدموسی شفیق و محمدهاشم میوندوال صدراعظم‌های پیشین افغانستان پس از کودتای داود خان در سال ۱۹۷۳ و کودتای کمونیستی در سال ۱۹۷۸ به زندان افتادند، شکنجه دیدند و جان باختند.
موسی شفیق (راست) و محمدهاشم میوندوال، دو صدراعظم افغانستان در دهه ۱۹۷۰ که براثر شکنجه در زندان به طر مرموزی درگذشتند.
محمدانور بسمل شاعر، محمدابراهیم صفا شاعر و برادر او، میر غلام محمد غبار مورخ و برادرانش، عبدالهادی داوی نویسنده، غلام محی الدین انیس نویسنده، محمدحیدر نیسان شاعر و بسیاری دیگر تنها در زمان صدارت شاه محمود به دلایل سیاسی زندانی شدند و شکنجه دیدند.
پیش از آن عبدالخالق، جوانی که به روی نادرشاه افغانستان شلیک کرد، بند از بندش جدا کردند. محمد صدیق فرهنگ در کتاب ‹افغانستان در پنج قرن اخیر› نوشته است: «علاوه بر شخص قاتل عده‌ای از نزدیکان و رفیقان او و حتی مردمان به کلی بی‌تعلق به این مسئله بودند، به وسیله شکنجه مجبور ساخته شدند تا به مطالب دور از حقیقت اعتراف کنند و هرچه پرسش کنندگان می‌خواستند بگویند و امضا کنند.» فرهنگ نوشته: «افراد بی‌گناهی اعدام شدند که هیچ دخل و تعلق و حتی اطلاع و آگاهی از نقشه عبدالخالق نداشتند و فدای حس کینه‌توزی و انتقام‌گیری شدند.»
فهرست شکنجه‌دیدگان در تاریخ افغانستان کوتاه نیست. به نوشته صدیق فرهنگ در دولت‌های چپگرای خلق پرچم، زندان پل چرخی مانند کشتارگاه انسان‌ها را پیدا کرده بود که اشخاص مختلف را از طبقه‌های مختلف جامعه بدون دلیل و مدرک شکنجه می‌شدند.
در دوره حکومت مجاهدین در کابل و تسلط طالبان نیز رفتارهایی با شهروندان افغانستان می‌شد که مصداق روشن شکنجه دانسته می‌شود. طالبان زنان را از حضور در عرصه عمومی محروم کردند، مردان را به بهانه‌های مختلف مثل تراشیدن ریش، یا ادا نکردن نماز شلاق می‌زدند.
جواد سلطانی می‌گوید با توجه به اینکه مردم افغانستان در برابر نحوه‌های گوناگون خشونت بی‌دفاع هستند، این نگرانی وجود دارد که افغانستان به تاریخ سیاهی برگردد که در آن هر نوع برخورد فراقانونی و اعمال بی‌حد و مرز خشونت در برابر مخالفان رایج بود.
افغانستان در سال ۱۳٦۵ خورشیدی به کنوانسیون منع شکنجه پیوسته است. قانون اساسی افغانستان نیز در ماده ۲۹ گفته هیچ شخصی نمی‌تواند حتی به قصد کشف حقایق از شخص دیگر، حتی فرد تحت تعقیب، گرفتاری، توقیف و یا محکوم به جزا باشد، به تعذیبش اقدام کند یا امر بدهد. افغانستان همچنان قانونی را برای منع شکنجه را در سال ۱۳۹۵ تصویب کرده است، با وجود این هنوز در برخی از مکان‌های ‹سلب آزادی› برخی مظنونان، متهمان و زندانیان برای گرفتن اعتراف و معلومات شکنجه می‌شوند.
کمیسیون مستقل حقوق بشر افغانستان در گزارش منع شکنجه در سال ۱۳۹۹ نوشته، در طول سال ۱۳۹۹ در این کمیسیون ۱۱۴ شکایت در مورد شکنجه ثبت شده است.

# له خطرونو او ننګونو سره مخ دنده؛

## نړیوالې ادارې: ټول اړخونه دې د افغان خبریالانو حقونو ته درناوی وکړي

پرون د مې درېیمه د مطبوعاتو د ازادۍ نړیواله ورځ وه. دغه ورځ داسې مهال په افغانستان کې نمانځل کېږي، چې خبریالان او د مطبوعاتو کارکوونکي له جدي ګواښونو سره مخ دي. نړیوالې ادارې او په کابل کې د ځینو هېوادونو سفارتونو هم د افغان خبریالانو پر وړاندې د ګواښونو د موجودیت خبره کوي، خو تر څنګ یې وایي چې دوی په افغانستان کې د بیان ازادۍ ملاتړي دي. افغان حکومت هم مني چې د خبریالانو لپاره خنډونه ډېر دي، خو د دې تر څنګ د بیان ازادي خپله لویه لاس ته راوړنه بولي او د خبریالانو د خوندیتوب ژمنه کوي.
تېره ورځ د مې درېیمه د مطبوعاتو د ازادۍ نړیواله ورځ وه. د ملګرو ملتونو عمومي منشي انتونیو ګوترېش په همدې مناسبت په خپاره کړې پیغام کې د نړۍ د ټولو هېوادونو له حکومتونو وغوښتل چې د بیان ازادۍ ته درناوی وکړي او د خبریالانو په مخ کې شته خنډونه له منځه یوسي. د ده په خبره، نړیوال معلوماتو ته د لاسرسي حق لري او مطبوعات هغه برخه ده چې نړیوالو ته بې پرې او کره معلومات رسولی شي. هغه همدا راز ټینګار کړی چې ملګري ملتونه د نړۍ په ګوټ ګوټ کې د بیان له ازادۍ او د خبریالانو له حقوقو دفاع کوي.
د دې تر څنګ په افغانستان کې بیا دا ورځ داسې مهال نمانځل کېږي چې خبریالان او رسنۍ له بې مخینې ګواښ سره مخ دي. تېر کال د افغان خبریالانو لپاره خونړی کال و، چې ګڼ خبریالان په خونړیو هدفي بریدونو کې ووژل شول او د رسنیو کار له ګڼو خنډونو سره مخ و. په افغانستان کې د ځینو هېوادونو سفارتونو او نړیوالو ادارو د افغان خبریالانو اوسنی وضعیت د جدي اندېښنې وړ بللی او وایي چې د دوی د کارونو پر وړاندې ګڼ خنډونه پراته دي. دوی پر افغان حکومت غږ کړی، چې باید د خبریالانو د امنیت د تامین لپاره هر اړخیز او جدي ګامونه پورته کړي. په دې ډله کې امریکا، استرالیا، کاناډا، ډنمارک، فنلنډ، فرانسې، المان، ایټالیا، هالنډ، ناروې، سویډن، اروپایي ټولنه او یوناما شامل دي. دوی په یوه ګډه اعلامیه کې ویلي چې په افغانستان کې د بیان ازادۍ او مطبوعاتو ملاتړي دي او په دې برخه کې هر اړخیزو همکاریو ته ادامه ورکوي.
یادو هېوادونو او نړیوالو ادارو د ملاتړ د څرګندولو تر څنګ پر افغان حکومت هم غږ کړی، چې د خبریالانو امنیت خوندي کړي او هغه کسان دې محاکمه کړي چې خبریالانو ته ګواښونه جوړوي او یا پر دوی د هدفي بریدونو هڅه کوي.
بلخوا افغان حکومت بیا وایي چې د بیان ازادي یې ستره لاسته راوړنه ده او د دې لاسته راوړنې د ساتلو لپاره به هڅه کوي. د ولسمشر دویم مرستیال په همدې مناسبت په کابل کې جوړې شوې غونډې ته د خبرو پر مهال وویل چې د خبریالانو پر وړاندې ګواښونه پراته دي، خو افغان حکومت وخت پر وخت د دغو خنډونو او ګواښونو د لرې کولو لپاره هڅه کړې ده. هغه ویلي، افغان حکومت د خبریالانو د وژل کېدو قضیې څېړلې او د ډېرو دغه ډول ترهګریزو پېښو عاملین هم نیول شوي دي. د ده په خبره: «د بېلګې په ډول د تاوتریخوالي وروستیو قضیو عاملین نیول شوي، د الیاس داعي، د رحمت‌الله نېکزاد، بسم‌الله عادل ایماق، ملالۍ میوند، یوسف رشید، د عبدالمنان ارغند او د کابل په شش درک سیمه کې د نهو خبریالانو د وژنو عاملین او د کابل په لوېدیځ کې د صمیم فرامرز، رامین احمدي، د بي‌بي‌سي خبریال احمدشاه قاتلین نیول شوي دي او دوسیې یا څارنوالۍ کې تر څېړنې لاندې دي او یا هم محکمې فیصله کړې ده».
په کابل کې د یوناما مشرې ډېبورا لاینز هم د مطبوعاتو د ازادۍ په مناسبت په جوړه شوې غونډه کې د خبرو پر مهال ویلي چې افغان خبریالان په بېلو برخو کې له ستونزو او خنډونو سره مخ دي او ټولې خواوې باید د خبریالانو حقوقو ته درناوی وکړي.



افغان خبریالان بیا وایي چې دوی له سترو ننګونو او ستونزو سره مخ دي. د بیان ازادۍ کور مشر دانش کروخېل ویلي چې چې د امنیتي ستونزو تر څنګ ګڼې نورې ستونزې هم لري چې د کارونو د ځنډنې کېدو او خنډ لامل دي. د ده په خبره: «هدفي وژنې، د ژورنالېستانو امنیت، اطلاعاتو ته نه‌لاسرسی د ژرنالېستانو مهمې ستونزې دي چې موږ یې اندېښمن کړي یو، زموږ هیله دا ده چې د جګړې ښکېلې خواوې باید د بیان ازادۍ ته درناوی وکړي». په کابل کې د مطبوعاتو د ازادۍ ورځ داسې مهال نمانځل کېږي، چې وروستي امنیتي وضعیت نه یوازې د عامو افغانانو ژوند ته ګواښونه جوړ کړي، بلکې د خبریالانو او رسنیو لپاره یې هم اندېښنې او ننګونې رامنځ ته کړې دي.

# په هند کې د کرونا بحران؛

## په هند کې د کرونا ویروس له کبله په یوه اونۍ کې۲۳زره او ۸۰۰ کسان مړه شوي


د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې پر کرونا ویروس د اخته کسانو شمېر ۱۵۳ میلیونه او ۵۹۸ زره او ۲۹٦ کسانو ته رسېدلی دی. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې مهاله درې میلیونه او ۲۱۸ زره او ۲۸۷ کسان مړه شوي او نږدې ۱۳۱ میلیونه ترې بېرته رغېدلي دي.
د یادو شمېرو له مخې، د امریکا متحده ایالتونه د دغه ویروس د ډېرو مثبتو پېښو او قربانیانو له اړخه د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. د راپورونو پر بنسټ، په امریکا کې د دغه ویروس مثبتې پېښې ۳۳میلیونه او ۱۸۰ زره او ٦۸٦ ته رسېدلي او ۵۹۱ زره او ٦۳ نور امریکایان ترې مړه شوي دي.
دغه راز هند د ۱۹ میلیونه او ۹۲۵ زره او ٦۰۴ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دویم، برازیل د ۱۴ میلیونه او ۷۵۴زره او ۹۱۰ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ درېیم، فرانسه د پنځه میلیونه او ٦۵۲ زره او ۲۴۷ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ څلورم او ترکیه د څلور میلیونه او ۸۷۵ زره او ۳۸۸ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ پنځم هغه هېواد دی، چې د کرونا ویروس ډېرې پېښې پکې ثبت شوې دي.
روسیه، برېتانیا، ایټالیا، هسپانیا او جرمني بیا په ترتیب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د کرونا له کبله ډېر ځپل شوي دي. په ورته مهال په هند کې د کرونا ویروس ګواښوونکی څپې دغه هېواد له جدي بحران سره مخ کړی دی. د دغه بحران په دوام، نړیوالو له یاد هېواد سره د اوکسیجن او نورو روغتیایي وسایلو مرستې کړې دي.
د برېټانیا حکومت ویلي، چې هند ته به د مصنوعي ساه اخیستلو زر دانې اضافي ماشینونه ولېږي. په تېره یوه اونۍ کې په هند کې د کرونا ویروس ۲.٦ میلیونه مثبتې پېښې ثبت شوي او په دغه ویروس اخته شاوخوا ۲۳زره او ۸۰۰ کسان مړه شوي دي.
له دې سره په دغه هېواد کې د ټولو مړینو شمېر دوه لکه او پنځلس زره ته لوړ شوی دی. متخصصین په دې باور دي چې دا شمېرې د بحران جدیت ښیي.

## د کتـــاب خبـــرې

# د جاسوسی پېښلړ
# RAW, ISI
# او د سولې وهم

◎ ليکوالان: اې. اېس دولت، اسددورانی او ادېتيا سېنها
◎ ژباړه: د اکسوس د ژباړې بورډ

### شپږمه برخه
### نوې لويه لوبه




سېنها: که چېرې د امريکا په خاوره يوه لويه تروريستي حمله وشي، ټرمپ به د پاکستان په هکله څه وکړي؟
دوراني: که دا حمله له پاکستان څخه شوې وي، د هغه غبرګون به جدي وي. را به شي دلته او هلته به بمونه ووروي او کېدای شي سم شي، دا هم ممکنه ده چې له هند څخه وغوښتل شي تر څو پر پاکستان فشار راوړي. دوی خپلې مرستې هر وخت چې غواړي بندولی يې شي. زه فکر کړم دوی پوهېږي چې هېڅ هېواد به د هغې يوازينی مسؤل نه وي. د(۱۱/۹) له پېښې وروسته سره له دې چې په سعودي حمله ونشوه، خو د پېښې په تړاو، پر دوی هم ډېر فشارونه راوړل شول.
تېری يا لويه حمله پر هغه هېوادونو باندې کېږي، چې کمزوري وي، د دفاع جوګه نه وي او بېرته غبرګون نشي ښودلی. پاکستان څه کولی شي؟ موږ اړ نه يوو چې په دې هکله وغږېږو. خو پاکستان چې په خپل هېواد او سيمه کې کوم ځواک لري، فکر کوم د افغانستان په څېر به حمله پرې ونشي. خو هاخوا دېخوا به د يو څو بمونو په تمه وو.
که چېرې دوی له پېښو ځان وباسي، پر دوی د تروريستي حملو شونتيا هم کمېږي. يو څو امريکايان د ټولې لوېې وچې په هکله فکر کوي، ځينې نور بيا دا موضوع شاربي چې کېدای شي يوه سلسله تروريستي حملې ترسره شي، چې سرچينه به يې په پاکستان کې وي. دوی پر دې خبرې کوي، چې پاکستان په غيرفعال دولت بدل کړي. دا نه يوازې دا چې يو احمقانه کار دی، د دې مانا هم لري چې افغانستان او عراق په افراطي بڼه فعال دي، خو داسې نه ده، دوی سم فعال دولتونه دي. زه فکر کوم پاکستان کولای شي طوفان را ولاړ کړي، خو مهم ټکی دا دی چې په نړيواله کچه به زموږ په زړونو وېره خوره کړي.
دولت: ما هر وخت امريکايانو ته ويلي، بس دی، تاسې ولې پر پاکستانيانو فشار نه راوړئ؟ دوی به ويل چې موږ پر هغوی فشار رواړو، خو د X په کچه فشار پرې واردولی شو، له هغې زياته موږ مرسته نشو کولای.
دوراني: سمه ده، ځکه خو زه فکر کوم چې دا د پاکستان لويه تېروتنه ده چې امريکا د هغوی مسايل له هند سره حل کوي. د دې لپاره که چېرې امريکايان جدي او لېوال وي او ډېلي ترې غوښتې وي، چې ګوزار وکړئ، هغوی به يې وکړي.
دولت: تاسې سم ياست، خو زه فکر نکوم چې ډېلی به امريکا ته د ګوزار په هکله ووايي.
دوراني: تاسې يې داسې نه واياست.
دولت: ځکه چې موږ له امريکايانو سره ستاسې په څېر اړيکې نه لرو. موږ له هغوی سره ځانګړې اړيکې لرو، نو ځکه فکر نه کوم چې مودي به ورته ووايي چې ګوزار وکړئ.
دوراني: ګوزار کول په دې بڼه نه ويل کېږي، څه به چې وويل شي...
دولت: رئيسه، هغه به دا خبرې او ترور ونکړي، دواړه مه يو ځای کوه. هغه به تاسې ته ووايي. دا هغه څه دي چې زه يې غواړم ووايم.
دوراني: هغه به ټرمپ ته ډېر څه ووايي، خو اساساً به په دې پورې اړه ولري، چې هغه به يې څنګه وايي، ستاسې له اندېښنې ډېره منله.
دولت: که ته فکر کوې چې لومړي وزير مودي فکر کولو چې بارک اوباما يې ملګری دی، نو هغه به اوس فکر کوي چې ډونالډ ټرمپ يې تر هغه لا ښه ملګری دی. نو هغه به څنګه د هغه پرخلاف مقاومت وکړي او هغه له کوم څه راوګرځوي؟
دوراني: د دې په ويلو سره، ته ډېر ښه ملګری يې، ډېره منله دا چې اوس تاسې موږ ته وويل، اوس بايد ډېر کار وکړو. د بهرنيو چارو وزير د ولسمشر په غوښتنه کار پيل کړی، چې څنګه په پاکستان لا نور فشار راوړل شي. د مشرف د قضيې په هکله د بيلګې په توګه د( ۱۱/۹ )د پېښې په وخت کې د فشار په موخه هغه ته وويل شول: دا به ښه وي چې ته عمل او همکاري وکړې. هغه غوښتل چې همکاري وکړي، خو په دې پوهېدلو چې په خپل کور کې به يې هم ستونزې راوټوکېږي. نو ځکه هغه يوه کيسه جوړه کړه. زه څه کولای شم؟ زه ګوابښول شوی وم، په پاکستان به بمونه اورېدلي وای، د کشمير قضيه له ګوابښ سره مخ وه، زموږ هستوي تأسيسات به له موږ څخه اخيستل شوي وای او زموږ اقتصاد به هم له منځه تللی و؛ نو ځکه ما د هغوی غوښتنه ومنله.
دا سمه ده چې هغه پر دې بڼه نه و ګوابښول شوی.
دولت: هغه د عامه تاوتريخوالي لپاره داسې ويلي وو: «بوش ويلي، يا تاسې له موږ سره ياست يا زموږ پر ضد ياست.»
دوراني: هو، خو دا تمه هم وه چې مشرف به د همکارۍ تر څنګ د خپلو ځينو غوښتنو په هکله هم خبرې اترې وکړي. ځينې شيان منل، ځينې نه منل او د ځينو نورو په هکله به خبرې اترې شوې وي او بايد په همدې بڼه شوې وي. **دوام لري...**

# لري کينګ

شفيق اميرزی



لري کينګ مشهور امريکايي ژورنالېست او د خپرونو چلوونکی دی. د هغه ژوند په زړه پورې دی او د ډېرو لپاره مثبت پيغام لري. لري کينګ له ژورنالېزم سره ډېره مينه لرله، خو خپلې دغه مينې ته د رسېدو لپاره يې ډېر زيار هم ګاللی دی. هغه په زيار او زحمت د لومړي ځل لپاره په راډيو کې له صفاکارۍ کار پيل کړ. بيا يې له عادي خبريالۍ کار پيل کړ او تر دې چې د يوې محلي راډيو له عادي صفا کار بيا د ټلوېزيون په تاريخ کې په يوه مهمه څېره بدل شو. لري کينګ لا هم خپرونې چلوي او له کلونو راهيسې د سي ان ان ټلوېزيون تکړه ژورنالېست دی. هغه يوه خپرونه پنځه ويشت کاله وچلوله، دا د ټلوېزيون له جوړېدو راهيسې يو ستر ريکارډ دی چې يوه خپرونه دې پوره پنځه ويشت کاله وچلول شي او په يوه وخت کې يې دې يو ميليون کسان د ټلوېزيون له پردې وګوري.
کينګ چې اصلي نوم يې (Lawrence Harvey Zeiger) دی، د ۱۹۳۳ز کال د نومبر په ۱۹مه د نيويارک په بروکلېنک کې زيږېدلی دی. پلار يې جيني سيټلېټز نومېده. پلار يې په ليتوانيا کې زيږېدلی و، مور يې هنګري اصلي تبعه وه، خو په امريکا کې اوسېده، چې شخصي کاروبار يې درلود او په واړه هوټل کې پر کار بوخته وه. د کورنی مشران يې ارتودوکس يهوديان وو. کينګ په بروکلين کې يوه عامه ښوونځي کې شامل کړل شو، خو دی د ښوونځي زده کوونکی و چې پلار يې د ۴۴ کلونو په عمر ومړ. د هغه مور اړ شوه چې کار وکړي او تر څنګ يې د حکومت له مرستو په استفادې د خپلو ماشومانو پالنه وکړي. د پلار مړينې د کېنګ پر ژوند خورا منفي اغېز وکړ، له ژوند سره يې هيله مندي ختمه شوه او ښوونځی نور ورته په زړه پورې نه و. ده غوښتل چې له مور سره يې په کارونو کې مرسته وکړي، پيسې وګټي، خو مور يې دی زده کړو ته هڅاوه تر دې چې له ښوونځي فارغ شو او د خبريالۍ مينه يې په سر کې ګرځيده.
کينګ له ښوونځي سره دومره مينه نه لرله، خو کورنی کار او خبريالي ورباندې ګران وو. له ښوونځي تر فراغت وروسته يې د لومړي ځل لپاره متې بډ وهلې چې چېرته په کومه راډيو کې دنده پيدا کړي. خو د کينګ د هستوګنې په ځای کې راډيويي خپرونې پرمختللې وې او بې تجربې کسانو ته د کار زمينه پکې نه برابرېده. هغه اړ شو چې فلوريډا ته لاړ شي، ځکه په دغه ښار کې د راډيو او رسنيو بازار نوی و او د کار فرصت هم ورته برابرېده. کينګ ته دلته هم د کار زمينه نه برابرېده. يو خو چا نه پېژانده او بل يې تجربه نه لرله.
د سي بي ايس يو کارکوونکی د ده ملګری و، د هغه په مشوره يې فلوريدا ته سفر وکړ. کينګ ميامي کې و. په کار روزګار پسې ګرځېده او د رسنيو دروازې يې ټکولې. چا دنده نه ورکوله، ځکه دی يو بې تجربې ځوان و چې يوازې په مينه او له کار سره په شوق يې په راډيو کې ګومارل د رسنيو مديرانو ته معقول کار نه برېښېده. ده ډېره هڅه وکړه، ډېره سختي يې تېره کړه، تر دې چې په راډيو کې يې خپله لومړنۍ دنده پيدا کړه. په ميامي کې د يوه واړه راډيويي سټېشن مدير هغه په دفتر کې د ننه د راډيو د تجهيزاتو د پاکولو او صفا کولو لپاره ونيو. دا راډيو هغه مهال (WAHR) نومېده چې اوس هم نشرات کوي او نوم يې (WMBM) دی. دی همدلته په صفاکارۍ بوخت و چې يو وخت په راډيو کې يو کارکوونکی کمېږي، نوي کارکوونکي ته اړتيا پيدا کېږي او دی له مدير سره خبرې کوي چې کار ورکړي. مدير يې په لومړي سر کې نه ورسره مني، خو تر ډېر ټينګار وروسته ده ته اجازه ورکوي چې د راډيو سټوډيو ته دننه شي او خپله لومړنۍ خپرونه اورېدونکو ته وړاندې کړي.
د لري کينګ غږ د لومړي ځل لپاره د ۱۹۵۷ز کال د مي په لومړۍ نېټه د سهار په ۹ بجو له راډيو خپور شو. ده په راډيو کې د موسيقۍ يوه خپرونه مخ ته وړله، چې د خلکو فرمايشي سندرې به يې خپرولې او خبرې به يې کولې.
لري کينګ بيا وروسته په خپل يوه کتاب کې د خپلې لومړنۍ خپرونې په اړه وايي چې خورا سخته ورځ وه. دی وايي چې کله د لومړي ځل لپاره سټوډيو ته د ننه شو، سخت تر فشار لاندې و، مايک ته تر کېناستو وروسته حيران و چې څه ووايي. د تخنيک همکار ورته اشاره کوله چې نشرات پيل شوي دي او بايد يو څه ووايي. دی حيران ديران و، وايي، هومره تر فشار لاندې وم چې پر بټه ګوته مې زخه و او وينې ترې رواني شوې. همدا مهال پرېکړه کوي چې صادقانه هر څه ووايي. دی وايي مايک ته نږدې شو او و يې ويل، درنو اورېدونکو سلام، زه لري يم، نن مې په راډيو کې لومړۍ ورځ ده او نه پوهېږم څه ووايم، بايد صادقانه ووايم چې ډېره سخته ده او سخت تر فشار لاندې يم. همدې صداقت کينګ مشهور کړ.
له دې وروسته لري کينګ د خلکو په زړونو کې ځای درلود. لري کينګ وايي چې د برياليۍ خبريالۍ لپاره مهمه خبره دا ده، چې هر څه له زړه ووايي او هغه څه نورو ته ونه وايې چې ته پخپله باور نه ورباندې لرې.
له دې وروسته کينګ د ميامي په ساحلونو کې مينه وال لرل. خپرونه يې خلکو اورېده. ده به لومړۍ د موسيقي يوه خپرونه چلوله، بيا به يې تر غرمې وروسته دوه خبري سرويسه وړاندې کول او سپورتي خبرونه به يې هم تر اورېدونکو رسول.
کينګ خپل کار په وړه راډيو کې د موسيقي له خپرونې پيل کړ. بيا يې بله خپرونه پيل کړه، سهار به له راډيو تللو او په ميامي کې به يې يوه واړه ساحلي هوټل ته ځان رساوه. په دې هوټل کې به يې له هغو خلکو سره مرکې کولې چې د سهارنۍ لپاره به راتلل. خپله لومړنۍ مرکه يې د دې هوټل له يوه خدمتګار سره وکړه او له هغه يې د هوټل او کاروبار په اړه پوښتنې وکړې. له همدې مرکې دوه ورځې وروسته د کينګ د بخت ډېوه وځلېده. د امريکا مشهور سندرغاړی بابي دغه هوټل ته د سهارنۍ لپاره راغلی و. هغه څو ورځې وروسته په ميامي کې کنسرت درلود، له همدې کنسرت مخکې يې له کينګ سره مرکه وکړه او دې مرکې ډېر مينه وال پيدا کړل. دا د کينګ په ژوند کې لومړنی مشهور کس و چې مرکه يې ورسره وکړه.
کينګ د مرکه کولو او په زړه پورې پوښتنو په برخه کې فوق العاده استعداد درلود. همدې مسئله هم ميلمانه بوخت ساتل او هم اورېدونکي. د مرکو له لړۍ وروسته يې په همدې راډيو کې په ژوندۍ بڼه نورې خپرونې پيل کړې. وروسته يې ځينې خپرونې ټلوېزيوني شوې او د ميامي په محلي ټلوېزيوني چينلونو کې به خپرېدې. ميامي انډر کاور يې مهمه خپرونه وه، چې هره يکشنبه غرمه مهال به خپرېده او په هغه کې به يې مهم حکومتي چارواکي مېلمانه کول او د ښار په بېلو مسايلو او ستونزو به يې خبرې ورسره کولې. دی وايي، په ټلوېزيون کې يې بريا د يوه تکړه ممثل همکارۍ ته ورګرځي. دی وايي، يو وخت د امريکا مشهور کمېډين جکي ګليسيون ميامي ته لاړ. ده هلته ځينې پروګرامونه لرل، بيا له کينګ سره اشنا شو. دوی مرکه لرله، خو جکي د کينګ له کارونو سره يو څه موافق نه و. هغه تر سهاره له کينګ سره لګيا و، ده ته يې ډېر څه وښودل، ان د دفتر او سټوډيو ډيکور او څراغونه يې هم ورته بدل کړل، دی وايي، له دې وروسته يې ډېره همکاري ورسره لرله او ډېرې مشورې يې ورکولې.
له همدې سره د کينګ برياوې پيل شوې. په مهمو سپورتي غونډو او لوبو کې يې وياندويي کوله. ژوندۍ خپرونې يې چلولې، د ټلوېزيون پر پرده راڅرګندېده او مينه وال يې ورځ په ورځ ډېرېدل.
په سي ان ان کې په ۱۹۸۵ز کال لري کينګ لايف خپرونه پيل کړه. دا خپرونه پوره پنځه ويشت کاله وچلېده او ورځ په ورځ يې ليدونکي ډېرېدل. د شمېرو او نظرپوښتنو له مخې دغه خپرونه په يوه وخت کې يو ميليون کسانو په ژوندۍ بڼه کتله. په دې خپرونه کې کينګ د امريکا له مهمو او مشهورو څېرو سره د ازاد بحث او ټوکو ټکالو تر څنګ جدي پوښتنې هم کولې او خلکو به له دې خپرونې خوند اخيست. سي ان ان وايي چې کينګ په دې وخت کې نږدې دېرش زره مرکې کړې دي. کينګ له يو اس اې ټوډې سره هم نږدې شل کاله همکاري لرله. د ۲۰۱۰ز کال په جون کې کينګ اعلان وکړ چې نور به په سي ان ان کې خپله لري کينګ لايف خپرونه دروي، خو له سي ان ان سره به په نورو برخو کې خپله همکاري لري. دا خپرونه له پوره پنځه ويشت کاله خپرېدو وروسته په ۲۰۱۰ ز کال کې ودرېده. دا د ټلوېزيون په تاريخ کې هغه خپرونه ده چې تر ټولو ډېر يې دوام وکړ او تر ټولو ډېر مينه وال يې لرل.
لري کينګ د دندې او کارونو تر څنګ په ۱۹۸۷ز کال کې د زړه له حملې وروسته يو خيريه بنسټ جوړ کړ. نوموړي د دې بنسټ کارونه هم مخ ته وړل. لري کينګ د خپل کار پر مهال ګڼې جايزې ګټلې دي. هغه د راډيويي جايزو په برخه کې د نړۍ د ځلورم غوره چلوونکي لقب خپل کړی دی او همدا راز د ټلوېزيون په تاريخ کې په نړۍ کې د ټلوېزيوني خپرونو تر ټولو غوره چلوونکی بلل کېږي. کېبل اې سي، بېسټ ټاکر، سکاپوس، طلايي مايک، د غوره او اغېزناکو بحثونو لپاره په امريکا کې د ولسمشر مشهوره جايزه، د ارتباطاتو جايزه، افتخاري ماسټري او له برېډلي پوهنتون افتخاري دوکتورا او په خبريالۍ کې د زرورتيا جايزې هغه وياړونه دي چې کينګ ځان ته ځانګړي کړي دي.
لري کينګ د خپل ژورناليستيک ژوند پر مهال نږدې ٦٠ زره مرکې کړې دي. هغه د نړۍ له مشهور شخصيتونو، فلمي ستورو، سپورتي لوبغاړو او تر ټولو ډېر له سياستوالو سره مرکې کړې دي. ښايي هېڅ مشهور شخصيت نه وي پاتې چې له کينګ سره يې مرکه نه وي کړې. لري کينګ ځانګړې وړتيا لري، هغه په خپله يوه مرکه کې ويلي، د هېڅ مرکې لپاره يې مخکيني سوالونه نه دي جوړ کړې، بلکې خبرې کوي، بحثونه کوي او له دې خبرو پوښتنې را وباسي. دی وايي، خبريال بايد صادق وي، له زړه خبرې وکړي، له اورېدنکو سره يې صادقانه وچلېږي او په دې توګه به يې مخاطبين ډېر وي. کينګ زرګونه مرکې کړې دي او وايي چې له خپل کار خوښ و، له کار سره يې مينه وه او همدې مينې په نړيواله کچه مشهور کړ. هغه د نړۍ تر ټولو ګرانبيه چلوونکی و، په دې مانا چې لوړ معاش يې درلود او خپرونې يې هم زرګونه مينه وال لرل.
کينګ يوه شي دې ځای ته ورساوه او هغه له خپل کار سره مينه وه. ده د زړه له تله غوښتل خبريال شي، په راډيو کې کار وکړي او ټلوېزيوني څېره وي. له همدې امله يې په يوه محلي راډيو کې له صفاکارۍ پيل وکړ او د نړۍ د تر ټولو غوره ټلوېزيوني خبريال لقب يې خپل کړ. دی لا تر اوسه ژوندی دی، ځينې خپرونې چلوي، خو د پخوا په څېر يې روغتيايي وضعيت ياري نه ورسره کوي.

# زړه سناریو؛ نوي لوبغاړي

محمد شریف افغانمل

د سولې خبرو لپاره د حکومت ضد مقاومت شرایط او غوښتنې که د ډاکتر نجیب الله د حکومت پر ضد د مجاهدینو له مطرح کېدونکو شرایطو او غوښتنو سره پرتله شي، ډېر توپیر پکې نشته او ان هڅه کېږي چې د تاریخ دغه سناریو بیا تکرار شي.

د سولې اوسنۍ سناریو او لوبغاړي کټ مټ د ډاکتر نجیب الله د واکمنۍ په څېر دي؛ دا ځل د ډاکتر نجیب الله احمدزي پر ځای محمد اشرف غني (احمدزی)، د مجاهدینو اوو ګوندونو پر ځای د طالبانو بېلابېلې ډلې، پاکستان او د افغانستان په تړاو بهرنۍ سیاست یې پر خپل ځای، د روسیې پر ځای امریکا او د امریکا پر ځای روسیه، د ملګرو ملتونو سرمنشي پطرس غالي د ځانګړي استازي بینن سوان پر ځای، د امریکا متحده ایالتونو د بهرنیو چارو وزارت ځانګړی استازی ډاکتر زلمی خلیلزاد او مجاهدینو ته د ډاکتر نجیب الله له لوري تر وخت وړاندې ټاکنو تر سره کولو، د اساسي قانون تعدیل، له واک څخه د تېرېدو او د ملي پخلاینې لارنقشې اعلانولو امتیازاتو پر ځای د ډاکتر اشرف غني د سولې لارنقشه، تر وخت وړاندې ټاکنې، د بندیانو خوشې کول او له قید او شرط پرته د مذاکراتو پر مخ وړو وړاندیزونه ښودلی شو.

د ۱۹۸۸ کال د اپرېل په ۱۴مه د جینوا تړون پر اساس ډاکتر نجیب الله له واک څخه د لاس پر سر کېدو ژمنه وکړه او د ملګرو ملتونو تر څار لاندې پنځه توافقات وشول: په ۹ میاشتو کې له افغانستان څخه د شوروي اتحاد د ټولو ځواکونو وتل، پاکستان به د افغانستان په کورنیو چارو کې مداخله نه کوي، پخپله خوښه هېواد ته د کډوالو ستنېدل، امریکا د توافقاتو د عملي کېدو تضمین ورکړ او د تطبیق ژمنې د عملي کېدو لپاره یې پر دې تړون لاسلیک وکړ.

محمد اشرف غني د سولې لپاره په خپله اعلان شوې لارنقشه کې تر وخت وړاندې ټاکنو ته زمینه برابرول، په ټاکنو کې بیا نه کاندیدېدل او عادلانه او پایداره سولې ته د رسېدو لپاره سیمه ییز او نړیوال تضمین برابرول اعلان کړي دي.

هماغسې چې په ۱۹۹۱ کال د ډاکتر نجیب الله لپاره د سولې لپاره د پرېکړو سخت کال و، د اشرف غني د حکومت لپاره ۲۰۱۹ کال تر ټولو سخت و، ځکه د ټرمپ په مشرۍ د امریکا حکومت افغان حکومت په ځینو پرېکړو کې تر نهایي فشار لاندې راوست. د پنځو زرو طالب بندیانو خوشې کول او د دوحې یو طرفه هوکړې لاسلیک یې عمده برخې دي.

د دغو توافقاتو د لاسلیک او عملي کېدو نتیجه اوس او هغه وخت یو شان ده. جګړې لا زور واخیست، پاکستان مداخله ونه دروله او د واک خلا افغانستان یوه پېړۍ شاته بوت، چې د تکرار ډېره هڅه یې وشوه، خو ولسمشر غني یې د بدیلو لارو په وسیله په مخنیوي کې تر اوسه بریالی ګڼل کېږي.

د ډاکتر نجیب الله حکومت د افغانستان په شمال کې د بغاوتونو له وجې له سخت وضعیت سره مخ شو. له روسیې سره پولې ته نږدې په حیرتان بندر کې د ۷۰یمې لېوا قوماندان له دولتي ډسپیلین سرغړونه وکړه او ډېری تاریخ لیکوونکي دغه بغاوت مخامخ د شوروي اتحاد په زمینه سازۍ بولي، چې په پایله کې یې د ډاکتر نجیب حکومت له شمال څخه له سختو ننګونو سره مخ شو.

د دغه سناریو دوام یو ځل بیا د افغانستان په شمال کې په څرګندېدو دی، خو ډاکتر غني یې د مهارولو لپاره ځینې قېمتونه ادا کوي او ښايي د دې سناریو د تکرار د مخنیوي لپاره دغه قېمت د ده پخپل تحلیل له رامنځته کېدونکې فاجعې ارزانه وي.

په شمال کې د دوستم د بغاوت له مدیریت نیولې، تازه په فاریاب کې د والي د بدلېدو پر سر جنجال او د لانجې د هوارۍ لپاره د فاریاب پخواني والي نقیب الله فایق ته د غازي میربچه خان دولتي مډال او د انتصابي سناتور څوکۍ ورکړه یې هم د همدې لپاره ده، چې پر ځای یې داوود لغماني چې د افغانستان په ملي امنیت شورا کې د کار کولو سابقه لري او حکومت ته نږدې کس دی، وګوماري څو په شمال کې احتمالي رامنځته کېدونکي بغاوتونه باوري مهار کړي.

په ادا شوي قېمت د تاریخ د تکرارېدونکې سناریو مخنیوی تر اوسه بریالی دی، د واک د خلا مخنیوی او د افغانستان په اړه د پاکستان د بهرني سیاست د اهدافو روښانولو د مجاهدینو په څېر طالبان له پوښتنو سره مخ کړي.

له طالبانو سره د امریکا د سولې د یوې مبهمې معاملې په جریان کې د افغانستان د امنیتي او دفاعي ځواکونو د جوړښت ژوندي ساتلو لپاره پرلهپسې قول اردوګانو ته د ولسمشر غني سفرونه او پر هغوی د پاملرنې لپاره د خپل کاري وخت درې برخې ورکولو سره، ولسمشر د افغانستان له وسله وال پوځ سره د ډاکتر نجیب الله د تکرارېدونکې سناریو مخنیوی وکړ.

ځینو خورو ورو سیاسیونو ته امتیازات ورکول او تر یو چتر لاندې راوستل، په ځانګړي ډول په شمال او سویل کې د احتمالي بغاوتونو مخنیوي لپاره د یوې اغېزناکې نقشې پر اساس چټک اقدامات، د بهرنیو ځواکونو د وتو له اعلان سره سم د طالبانو سیاسي زړه کندهار ته سفر او طالبانو او بهرنیانو ته د خپل پیغام بیانول، له پاکستان سره د اړیکو د ثرنګوالي وضاحت او بالاخره د اسلامي هېوادونو د علماوو شوراګانو د فتواوو او د بهرنیو ځواکونو تر وتو وروسته له پاکستان سره د طالبانو د اړیکو ثرنګوالي په اړه د وضاحت رامنځته کولو له لارې د طالبانو جګړه ییز مشروعیت ننګول، ټول د تاریخ د تکرارېدونکې سناریو د مخنیوي لپاره تر سره شوي بریالي اقدامات دي.

## سرچینې: تر جولای میاشتې د امریکایي ځواکونو د وتلو په صورت کې طالبان د سولې خبرو ته راستنېږي

سرچینې وايي، چې طالبان او امریکا د جولای تر لومړیو له افغانستانه د بهرنیو ځواکونو د وتلو بهیر د پای ته رسېدو په تړاو په خبرو بوخت دي.

سرچینې زیاتوي، که امریکا او طالبان په دې اړه یوې هوکړې ته سره ورسېږي، طالبان به بیاځلې د سولې خبرو مېز ته راستنه شي، د استانبول په غونډه کې به ګډون وکړي او دغه راز به تاوتریخوالی هم راکم کړي.

دا په داسې حال کې ده چې طالبان د مې میاشتې تر لومړۍ نېټې د ټولو امریکایي ځواکونو نه وتل او د سپټمبر تر یوولسمې پورې د دغه بهیر بشپړېدل، د دوحې د تړون نقض ګڼي او د سولې په تړاو هر ډول غونډه کې یې ګډون رد کړی دی.

خو اوس دا ډله د یوې بلې نېټې د ټاکلو پر سر له امریکایانو سره د خبرو په حال کې ده او هڅه یې دا ده چې د جولای میاشتې تر لومړیو له افغانستانه د ټولو امریکایي ځواکونو د وتلو پر سر، موافقې ته ورسېږي او په دې سره د دواړو لورو ترمنځ رامنځته شوې بې باوري ختمه شي.

پخوانی طالب چارواکی سید اکبر اغا په دې اړه وايي: «لکه څرنګه چې امریکا د وتلو لپاره وخت ټاکلی، طالبان هغه نه مني او یو وخت به وټاکي چې یو منځنی وخت وي او د دواړو لوریو لپاره د منلو وړ وي.»

بلخو د افغان سولې لپاره د امریکا ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد په بریالیتوب سره د استانبول کنفرانس د جوړېدو لپاره د خپلو سیمهییزو سفرونو په لړ کې کابل ته راغلی دی.

تر دې وړاندې نوموړي د ازبیکستان د بهرنیو چارو له وزیر سره هم لیدلي او دواړه لوري پر دې سره سلا شوي چې ټول لوري باید د داسې پراخې سیاسي حللارې ملاتړ وکړي چې د افغانستان څلوېښت کلنه جګړه پای ته ورسوي.

بلخوا د ولسمشر دویم مرستیال سرور دانش طالبان یوه باغي او له سولې تښتېدونکې ډله ګڼي او وايي چې دغه ډله واک ته تږې ده. هغه زیاتوي: «طالب ډله نن په دې دلیل چې له سولې تېښته کوي، یوازې یوه یاغي او باغي ډله پېژندل کېږي.»

په ورته مهال د افغانستان اسلامي جمهوریت د مرکچي پلاوي غړي غلام فاروق مجروح وايي چې خلیلزاد له دغه پلاوي سره په خبرو کې د استانبول ناستې د جوړېدو ډاډ ورکړی دی.

د یادونې ده چې د استانبول کنفرانس د طالبانو د نه ګډون له امله تر اوسه دوه ځلې ځنډېدلی، تمه ده چې دغه کنفرانس له کوچني اختر وروسته جوړ شي، خو لاهم په دغه کنفرانس کې د طالبانو ګډون نه دی ډاډمن شوی.

## بایډن: په افغانستان کې به د امریکا پر وړاندې موجود هر ډول ګواښ له منځه یوسو


د امریکا ولسمشر جو بایډن د القاعده شبکې د مشر اسامه بن لادن په لسم تلین کې ویلي، القاعده ډله د کمزورۍ په حال کې ده له همدې کبله موږ د امریکا اوږده جګړه پای‌ته رسوو او خپل وروستي سرتېري هم له افغانستانه باسو.

هغه زیاته کړې: «امریکا د ترهګرو ډلو پر وړاندې چې په ټولې نړۍ کې یې ریښې کړې، د یوې څارونکې په توګه به پاتې شي. موږ د ځان پر وړاندې له افغاستانه د هر ډول ګواښ څارنې ته دوام ورکوو او له منځه یې وړو.»

د امریکا ولسمشر دغه راز وايي، چې لس کاله وړاندې د دغه هېواد پخواني ولسمشر باراک اوباما او د ملي امنیت ډلې سره یو ځای په پاکستان کې د بن لادن وژل کېدو سره د عدالت بریالي کېدو شاهد و.

هغه د خپلو خبرو په دوام ویلي: «دا هغه شېبه ده، چې هېڅکله به یې هېره نه کړم - زموږ استخباراتي متخصصان چې په ډېر زیار سره یې تعقیبول او په دې برخه کې د ولسمشر اوباما قاطعیت، شهامت او د عملیاتي ټیمونو مهارتونه.»

هغه په دغه پیغام کې زیاته کړې: «د سپټمبر د ۱۱ مې له پېښې چې زموږ پر خلکو برید و او موږ د القاعدې د مشرانو د تعقیب لپاره د افغانستان تر جګړې راورسېدو، شاوخوا لس کاله تېرېږي. موږ بن لادن تعقیب کړ او هغه مو له منځه یووړ. موږ خپلې ژمنې ته له هغو سره چې د سپټمبر ۱۱ مې په پېښه کې یې



خپل خپلوان له لاسه ورکړي وو، وفا وکړه.»

د یادونې ده چې د القاعده شبکې مشر اسامه بن لادن د ۲۰۱۱ز کال د مې په دویمه په ایبټ اباد سیمه کې د امریکایي ځانګړو ځواکونو په عملیاتو کې ووژل شو.

امریکا او ناټو چې د القاعدې ډلې د لهمنځه وړلو لپاره افغانستان ته راغلي وو، اوس له افغانستانه خپل ځواکونه باسي، خو د افغانستان حکومت وايي، چې لاهم په افغانستان کې د القاعدې ډلې ریښې نه دي وچې شوې او دغې شبکې د طالبانو ډلې سره یوځای د افغانستان او نړۍ راتلونکي لپاره یو ګواښ جوړ کړی، خو طالبان بیا د القاعدې شبکې سره خپله هر ډول اړیکه رد کړې.

د امریکا ولسمشر وايي، چې هېواد یې د افغانستان په جګړه کې خپلو موخو ته رسېدلی دی.

په ورته مهال افغان حکومت بیا له القاعده شبکې سره د طالبانو اړیکې د سولې بهیر پر وړاندې لویه ننګونه ګڼي. د ملي امنیت عمومي رییس احمدضیا سراج په دې اړه ویلي: «اوسمهال د طالبانو او القاعدې ترمنځ یوازې ایډیولوژیک بحث نهدی، اوس دوی په خپلو کې خپلوي لري.»

بلخوا د ملي امنیت سلاکار ویاند رحمت الله اندړ وايي: «که څه هم طالبانو له امریکا سره هوکړه کړې، چې د القاعدې او نورو ترهګرو ډلو سره اړیکې پرې کوي، خو لاهم القاعده د طالبانو په منځ کې جنګېږي.»

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷,۵ |
| € | ۹۲,۷ |
| Rp. | ٤۹۵ |
| ₹ | ۱۰۷۰ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۱۰۵,۵ |

### بېړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

مسیر ورځپاڼه

**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي

**مرستیال:** شفیق امیرزی

**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي

**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین

او حشمت الله نوري

**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان

**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦

۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com

0202502100 / 0777989696

www.maseerdaily.af

Maseer Daily

MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

وایګل چاپ
WAYGAL Printing Co.
غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ !
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
waygalprinting.co@gmail.com waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul

سه شنبه د ۱۴۰۰ د غویي ۱۴مه | د ۲۰۲۱ د مي څلورمه |۷۱۷مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

سه شنبه ۱۴۰۰/۰۲/۱۴
د سهار اذان ۰۳:۲۴ د ماښام اذان ۰۶:۴۵

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲۱ | ۲۲ | ۳۰ | ۳۴ | ۳۳ | ۲۶ |
| ۱۲ | ۱۵ | ۱۷ | ۲۴ | ۲۱ | ۱۸ |

شرعي وختونه: سهار ۰۳:۲۴ | لمر ختل ۰۵:۰۲ | ماسپښين ۱۱:۵۱ | مازیګر ۰۴:۴۱ | ماښام ۰۹:۴۵ | ماخوستن ۰۸:۰۷

## نړۍ




په هند کې د کرونا بحران؛
**په هند کې د کرونا ویروس له کبله په یوه اونۍ کې۲۳زره او ۸۰۰ کسان مړه شوي** ۳

## سازمان مهاجرت: نزدیک به چهار میلیون افغان‌ها به دلیل جنگ خانه‌های‌شان را ترک کرده‌اند



یافته‌های سازمان بین‌المللی مهاجرت در افغانستان نشان می‌دهد که آمار بی‌جاشده‌گان داخلی در کشور بار دیگر سیر صعودی گرفته است. به گفته این نهاد، از سال‌های ۲۰۱٦ تا ۲۰۱۸ میلادی سالانه یک میلیون نفر در افغانستان بی‌جا شده‌اند. هرچند این آمار در ۲۰۱۹ میلادی ۲٦ درصد کاهش یافته بود؛ اما بار دیگر در ۲۰۲۰ حدود ۱٦ درصد افزایش یافته است. براساس آمارهای این نهاد، نزدیک به پنج میلیون بی‌جاشده داخلی در افغانستان وجود دارند که ۷۸ درصدشان به دلیل جنگ و ناامنی بی‌جاشده‌اند. از میان این بی‌جاشده‌گان، حدود ۳۰۰ هزار نفرشان در خیمه‌ها و مکان‌های باز زنده‌گی می‌کنند. وزارت مهاجرین و عودت کننده‌گان اما می‌گوید که شمار بی‌جاشده‌گان در مقایسه با سال‌های گذشته کاهش یافته است. این در حالی است که خشونت‌ها در جریان سال روان میلادی شدت گرفته است و احتمال می‌رود که به آمار بی‌جاشده‌گان افزوده شود. پیش از این، سازمان عفو بین‌الملل هشدار داده بود که دست‌کم چهار میلیون بی‌جاشده در افغانستان به دلیل بحران کرونا به کمک فوری نیاز دارند. سازمان بین‌المللی مهاجرت در افغانستان نتیجه دوریازدهم یافته‌هایش در مورد شمار بی‌جاشده‌گان کشور را نشر کرد. این بررسی در جریان ماه جون سال ۲۰۲۰ تا پایان همان سال در هماهنگی با اداره احصاییه و معلومات و وزارت مهاجرین و عودت کننده‌گان انجام شده است.

## راپورونه: روسیې د اوکراین په ختیځ کې له نیم میلیون زیاتو کسانو ته د مسکو تابعیت ورکړی




د روسیې د کورنیو چارو وزارت وايي، چې په تېرو دوو کلونو کې یې د اوکراین په ختیځ کې له ۵۲۷ زرو زیاتو کسانو ته د روسیې تابعیت ورکړی دی. دغه کسان د اوکراین په هغو سیمو کې اوسېږي، چې د روسیې له ملاتړ برخمن بېلون غوښتونکي پکې د دولت پر ضد جنګېږي.
روسي چارواکو ویلي، د ۴۰ سلنه خلکو غوښتنلیکونه یې ځکه رد کړي، چې محدودیتونه پرې لګېدلي یا روسیې ته نه شي ننوتلی. د دغه هېواد د پارلمان مرستیال ویکتور وودولتسکي ویلي، ښایي د کال تر پایه یو میلیون اوکراینیانو ته نوي پاسپورټونه ورکړل شي.
دا په داسې حال کې ده چې د روسیې ولسمشر ولادیمیر پوتین د ۲۰۱۹ز کال په اپرېل کې د یادو سیمو خلکو ته د تابعیت د پروسې د اسانتیا په موخه یو فرمان هم ورکړی و.
د سیمې د لا زیاتې ناکراری د هڅې په توګه د روسیې لهخوا اوکراینیانو ته د تابعیت ورکولو موضوع تُند غبرګونونه پارولي دي. اوکرایني چارواکو د دغه هېواد خلکو ته د روسیې لهخوا د تابعیت ورکول یوه پوځي هڅه او د اوکراین له ملي حاکمیت ښکاره سرغړونه بولي.
په ورته مهال د روسیې د پوځ د لوی درستیز مرستیال دیمیتري کوزاک بیا تېره میاشت ان دا هم وویل چې امکان لري روسیه مجبوره شي چې په اوکراین کې د خپلو اتباعو دفاع وکړي.

## راپورونه: په بنګله‌دېش کې د دوو بېړیو د ټکر په پېښه کې ۲۵ کسان مړه شوي

د راپورونو له مخې، په بنګله دېش کې پولیس وايي چې په دغه هېواد کې د دوو بېړیو په ټکر کې لږ تر لږه ۲۵ تنه مړه شوي دي. د پولیسو یو مشر میرزا حسین ویلي چې په دغه پېښه کې پنځه کسان ژغورل شوي دي. چارواکوي ویلي چې دغه پېښه د یاد هېواد شبېچار ښار ته نږدې د پدما په سیند کې شوې ده.
سیمه ییزو چارواکو رویټرز ته ویلي چې یوه مسافر وړونکې بېړۍ چې ۳۰ تنه پکې سپاره وو، له یوې بلې ترانسپورتي بېړۍ سره جنګېدلې او په پایله کې یې یاده مرګ ژوبله رامنځته شوې ده.
دا په داسې حال کې ده چې تر دې وړاندې د روانې میاشتې په پیل کې هم په دغه هېوا کې د دوو بېړیو په ټکر کې څه باندې ۳۰ تنه مړه شول. تر هغې وړاندې، تېرکال د جولای په میاشت کې په ورته یوې بلې پېښې کې هم ۳۲ تنه مړه شول. په بنګله دېش کې د بېړیو ټکر معمول بلل کېږي او د دغه هېواد چارواکي او کارپوهان یې لوی علت د بېړیو ناسمه ساتنه او له اندازې د زیاتو کسانو ځایول ګڼي.

## ژوند


## حساسیتي غبرګون



حساسیتي غبرګون هغه وخت رامنځته کېږي، کله چې بدن له کوم بې ضرره شي څخه د خطر احساس وکړي، لکه ځینې د خوراک او ښباک توکي، ګرد او د حیواناتو لمس کول. روغتیایي کارپوهان وايي چې د بدن دفاعي سیستم دغه سخت غبرګون ځکه له ځان څخه ښکاره کوي څو د یادې شوې مادې له زیان څخه خوندي وي.
حساسیتي غبرګون یوازې پوستکی نه اغېزمنوي، بلکې پوزه، ستونی، سږي، غوږ، هډوکي او کولمې هم تر خپل اغېز لاندې راولي. د پوستکي حساسیت د اندېښنې وړ ګڼل کېږي چې باید له نظره ونه غورځول شي او دغه حساست عموماً په درې ډوله وي: ایکزیما چې د غټانو پر پرتله ماشومان زیات وي، ویل کېږي دغه حساسیت شل سلنه ماشومان تر اغېز لاندې راولي او یوازې تر درې سلنو پورې بالغ کسان تر خپل اغېز لاندې راولي. نښې یې دا دي: خارښت، حساس پوستکی، سپور پوستکی، سوځېدونکی پوستکی، رنګین پوستکی او پړسېدلی پوستکی.

## نوکیا سي۱۰ او سي۲۰ څېرک موبایلونه

نوکیا د یوې پرلیکه غونډې له لارې دوه ارزان بیه سي۱۰ او سي۲۰، دوه منځنۍ وړتیا لرونکي جي۱۰ او جي۲۰ او د دغې کمپنۍ تر ټولو ارزان بیه ۵جي څېرک موبایلونه اېکس۱۰ او اېکس۲۰ معرفي کړل. دغه څېرک موبایلونه ٦،۵۲ انچه اېل سي ډي ډوله او ۷۲۰ پکسل ریزلوشن لرونکې مخ‌پاڼه لري. دغو دواړو څېرکو موبایلونو کې ۲ ګیګابایټ رم او ۳۲/۱٦ ګیګابایټ د فایل ثبتونې وړتیا ورکړل شوې، چې له میموري کارت څخه هم ملاتړ کوي. نوکیا سي۱۰ کې یونې اېس او سي اېس سي۷۳۳۱ ډوله او سي۲۰ کې یونې اېس او سي اېس سي۹۸٦۳ ډوله پروسېسر ورکړل شوی دی. د سي لړۍ دغه دواړه څېرک موبایلونه ۳۰۰۰ ملي امپیره وړتیا لرونکې بېټرۍ لري. سي۱۰ له ۳جي او سي۲۰ له ۴جي ټکنالوژي څخه هم ملاتړ کوي او شاتنۍ برخه کې یوازې یوه پنځه مېګاپکسله کامره لري. د نوکیا سي۱۰ بیه ۷۵ یورو او د نوکیا سي۲۰ بیه ۹۰ یورو ټاکل شوې ده. نوکیا جي۱۰ او جي۲۰؛ دغو دواړو څېرکو موبایلونو کې ٦،۵ انچه اېل سي ډي ډوله مخ‌پاڼه او ۵۰۵۰ ملي امپیره وړتیا لرونکې بېټرۍ ورکړل شوې ده.








د میرمنو لپاره ځانګړی جاري حساب

عزیزي بانک خوښ دی چې تاسو ته د میرمنو جاري حساب درپېژني چې د افغانستان د درنو او قدرمنو میرمنو لپاره ځانګړی شوی محصول دی. میرمنې کولی شي په اې ټي ام او ماسټر ډبټ کارتونوکې د تخفیف له فیس سره په افغانیو او ډالرو کې پرانیزي. یاد حساب د ساتندویه او لنډ پیغام فیس پرته پرانېستلی شي. همدارز د میرمنو حساب له ټیټ اړتیاوړ بیلانس سره یعنې 500 افغانیو او50 ډالرو سره پرانېستل کېږي چې میرمنو ته آسانه او ارزانه بانکوالی چمتو کوي.

www.azizibank.af 1515